

د CHS د پالیسۍ لنډیز | ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۱

# افغانستان د نوي طالبانو تر حاکمیت لاندې

## د یوې ټولشموله او اغېزمنې حکومتولۍ لپاره یوه د تګلاره جوړول


سلطان برکات



CENTER FOR CONFLICT AND HUMANITARIAN STUDIES

د CHS د پالیسۍ لنډیز

# افغانستان د نوي طالبانو تر حاکمیت لاندې: د یوې ټولشموله او اغېزمنې حکومتولۍ لپاره یوه د ټګلاره جوړول

۱۳ سپتمبر ۲۰۲۱


## سلطان برکات *

سلطان برکات د CHS بنسټ ایښودونکی رئیس دی، چې په ۲۰۱٦ میلادي کال کې رامنځته شوې وه. نوموړی په دوحه انسټیټیوټ کې د پروفیسور په توګه دنده لري او همدا راز د یورک (University of York) پوهنتون د سیاسي علومو په ډیپارټمنټ کې هم د اعزازي پروفیسور په توګه کار کوي، چېرې چې هغه په ۱۹۹۳ کال کې تر جګړې وروسته د بیارغونې او پرمختیا واحد بنسټ هم کېښود او تر ۲۰۱٦ کال پورې یې مشري په غاړه درلوده. ښاغلي برکات د بروکېنګز ادارې د منځني ختیځ پالیسۍ مرکز کې د ارشد محقق په توګه او د بروکینګز د دوحې مرکز د څېړنې رئیس په توګه هم کار کړی دی.

د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۴ کلونو تر منځ، نوموړی د سولې نړیوال شاخص د متخصصینو بورډ بنسټ ایښودونکی غړی و. پروفیسور برکات په لندن کې د بهرنۍ پرمختیایی انسټیټیوټ کې د بشري-دوستانه پالیسۍ ډلې د مشورتي بورډ غړی دی، همدا راز د اقتصادي او ټولنیزې څېړنې شورا غړیتوب او په DFID کې د بېوزلۍ په کمولو د څېړنې کمیسون غړی هم دی.

په تازه وختونو کې، نوموړي په افغانستان کې د Track I او Track II منځګړتوب لپاره هلې‌ځلې کړې دي. نوموړي ملګرو ملتونو، نړیوال بانک، اروپایي ټولنې، د نړیوالې پرمختیا ډیپارټمنټ، د کارګرو نړیوال سازمان، د سره صلیب نړیوال فدراسیون او د سرې میاشتې ټولنو او یو شمېر دولتي ادارو ته مشوره ورکولې.


---

* زه د CHS ټیم، ثناء طارق، سانسم مېلټن، عابده دیاب او رند عده، د ملاتړ او همکاریو منندوی یم.

د CHS څېړنې د خپلواکۍ، هراړخیزه دیدګاه، او فکرۍ اعتبار پر بنسټ مخ ته ځي. مونږ په خپلو کارونکو کې تیورۍ، پالیسۍ او عمل ته په اړیکه ورکولو سره، په محلي، ملي او نړیوالو کچو له رغوونکې اغېزې سره علمي شبکې رامنځته کوو.

د CHS څېړنې له مخکښو ادارو سره په ګډه کار کوي څو د شخړو حل ته د ثبوت پر بنسټ لارې پیدا کړي. مونږ همدا راز له بشري مرستو او سولې سره اړونده کلیدي ونډه والو سره کار کوو څو هراړخیزه ډیالوګونه تسهیل کړو او په دوه اړخیزه زده کړه کې ښکېل شوو.


د کاپي حق © ۲۰۲۱، د شخړې او بشري مطالعاتو مرکز. ټول حقونه خوندي دي.



**مركز دراسات النزاع والعمل الإنساني**

شارع الطرفة (800)، منطقة 70، وادي البنات

ص. ب: 10277

الظعاين، قطر

+974 4035 6943

www.chs-doha.org

CENTER FOR CONFLICT AND HUMANITARIAN STUDIES

# فهرست


پېژندنه ........ 4

د واک د سوله‌ییز انتقال لپاره د افغانانو یو خپلمنځي تړون ........ 5

د طالبانو مؤقت پړاو او د ټولشمولتوب لپاره تمې ........ 6

د نړیوالو له لورې په رسمیت پېژندنه مبهمه پاتې ده ........ 7

مرسته، اتکا او اغېزه ........ 9

سپارښتنې ........ 9
یوه ټولشموله حکومت ته انتقال لپاره یوه څرګنده او په وخت پورې محدوده د ټګلاره ترتیب کړئ ........ 10
په یوه نوم کې څه دي؟ د یوه متحد افغان ملت سمبولونه ........ 11
د امن او ارامۍ بېرته راوستلو لپاره د افغانانو اندېښنې له منځه یوسئ ........ 11
هغه ښې ژمنې پوره کړئ، چې کړې مو وې ........ 13
د اوږد مهال لپاره بشري لاسرسي ته لومړیتوب ورکړئ ........ 14

سرچینې ........ 15

# پېژندنه

د ۲۰۲۱ میلادي کال د اګست پر ۱۵ نېټه د افغانستان اسلامي جمهوریت پرځېدنه او له کابل څخه د انځورونو خپرېدل – په ولسمشریزه ماڼۍ کې د طالبانو عسکر او د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې د نهیلۍ ننداره – نړۍ هېښ کړل او دغه هېواد د ګډوډۍ پر لورې لاړ. له هغه وروسته، په دغه میاشت کې، په افغانستان کې یو لړ داسې سیاسي، امنیتي او بشري بحرانونه رامنځته شول چې د میلیونونه وګړو ژوند یې تهدید کړی او د نوې شخړې فضا یې برابره کړې ده. د ملګرو ملتونو سرمنشي، د سپتمبر پر ۱۳ نېټه په افغانستان کې د بشري حالت په اړه د وزیرانو په لوړه کچه یوه غونډه راوبلله، څو د بې طرفه بشري مرستې او په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو لپاره د پرمختیایي لاس ته راوړنو د خوندیتوب، د جدي خطرونو په پام کې نیولو سره، مالي مرسته

چمتو کړي.

سره له دې، هغه څه چې ډېر حیرانوونکي دي، دا دي چې د اګست د ۱۵ نېټې د ګډوډۍ وړاندوینه او تمه نه کېده. د کابل له سقوط څخه مخکې د جګړې ټولو لوریو ته حالت څرګند وو: دواړو افغان لوریو د اګست له ۱۵ نېټې څخه مخکې په ډېر پام مذاکرات کول، څو دغه جګړه په داسې سوله ییز ډول پای ته ورسوي چې ملي ثبات به پکې خوندي وي. د افغانستان اسلامي جمهوریت، طالبان او متحده ایالات داسې یوې موافقې ته رسېدلي وو چې د دوو اونیو انتقالي پړاو او اوربند پکې وو، د کابل امنیت به د اسلامي جمهوریت پر غاړه وي او متحده ایالات او ناټو به د هوایي ډګر له لارې د تخلیې چارې پر مخ بوځي. له یو شمېر افرادو پرته، ټولو ته دا د ټولو لوریو تر منځ متوقع ترتیبات وو.

دغه پلان له ماتې سره مخ شو، کله چې پخوانی ولسمشر اشرف غني د ادعا له مخې د ولسمشریزې ماڼۍ د امنیتي کارکوونکو په هڅونه له هېواده ووت، چې له دې سره په څو ساعتونو کې دننه په کابل کې امنیتي سیستم په بشپړ ډول سقوط کړ. په داسې حال کې چې د پخواني ولسمشر له لورې دغه ناڅاپي کړنه، له شخړې وروسته انتقال لپاره یوازینۍ تر ټولو ډېره مهمه کړنه وه، دا مهمه ده چې دغه کړنه په دواړو خواوو کې د افغانانو د یوې پراخه او ټولشموله ډلې د اوږدمهاله هڅو له لید سره موازنه شي، څو د واک د یوه سوله ییز او بانظمه انتقال په اړه بحث وشي.

دا حقیقت چې که پخوانی ولسمشر په دغه ډول له هېواده وتلی نه وای څه به پېښ شوي وای باید په ذهن کې وساتل شي، ځکه چې دا مونږ ته ښیي، چې له متحده ایالاتو او افغان لوریو څخه څه تمه کېدله او څه پلان یې درلود: د جګړې پای ته رسولو لپاره یوه باثباته او ټولشموله انتقالي پروسه، او د نږدې یو کال اوږدې د دوحې پروسې نهایي پایله. له دې پرته، دا هغه ځانګړې ننګونې راښیي، چې د طالبانو اوسنی حکومت ورسره مخ دی، چې حکومت کولو ته مجبور کړای شول او په دې ډول د ملي بحرانونو د مدیریت مسؤولیت ورترغاړې شو، او دا هر څه د هغوی د پلان پر خلاف په ډېره چټکۍ او له لږ چمتووالي سره رامنځته شول. له جګړې وروسته یوه باثباته نظام لپاره د طالبانو نوي حکومت ته سپارښتنې باید د قریني له هغو ننګونو سره تعدیل شي، چې هغوی پکې واک ترلاسه کړ او همدا راز د طالبانو د خوځښت هغه تنظیمې کمزورۍ، چې مشهورې دي.

د پالیسۍ دغه لنډیز، طالبانو او نړیوالې ټولنې ته، یوې انتقالي پروسې ته په وخت پورې محدودې یوې د لارې نقشې لپاره، سپارښتنې وړاندې کوي څو په افغانستان کې په چټک ډول باثباته شرایط بېرته رامنځته او په افغانستان کې له بشري بحران مخنیوی شي. د پالیسۍ دغه لنډیز، د ۲۰۲۱ کال د سپتمبر پر ۷ مه نېټه، په CHS کې د تنظیم شوي ګډ بحث څخه رامنځته شوی دی، چې د پخواني حکومت، طالبانو او د مدني ټولنې له ګډونوالو څخه د نظرونو له اورېدلو وروسته سپارښتنې هم ورسره مل دي.

# د واک د سوله‌ييز انتقال لپاره د افغانانو يو خپلمنځي تړون

د اوړي په مياشتو کې له افغانستان څخه په چټک ډول د متحده ایالاتو – ناټو پوځي شا تګ سره، د دغه هېواد ولايتونه د لوېديځ له لورې یو پر بل پسې د طالبانو لاس ته ولوېدل او په ختيځ کې مرکز ته ورسېدل. د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابل شاوخوا ولسواليو کې خپل کنډکونه ساتلي وو، خو د طالبانو لاسونو ته د ښارونو تسليمېدنې او د عسکرو له لورې د خپلو ځايونو پرېښودنې، د پوځي حالت واقعيت روښانه کړ. د طالبانو د پرمختګ پر وړاندې د دفاع کولو کمې امکانات، د کابل  سياسي زعامت ته څرګند و.

د افغانستان اسلامي جمهوريت، د اګست له ۱۵  نېټې څخه يوه مياشت مخکې، په دوحه کې د طالبانو له مرکچيانو سره په رسمي ډول د واک د تسليمۍ پر اړتيا خبرې کړې وې. کابل ته د طالبانو د رسېدلو په اونۍ کې، افغان لوريو او متحده ایالاتو، د قطر هېواد له تسهيل سره، ټولو لوريو ته د منلو وړ يو تړون لاسليک کړ. د دغه تړون له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوريت به د کابل د داخلي امنيت ساتنه کوله او همدا راز به يې د حامد کرزي نړيوال هوايي ډګر ملکي برخه هم تر کنترول لاندې درلوده. دا د ټولو لپاره د منلو وړ وه، چې ولسمشر غني به استعفا ورکړي او د تړون له مخې به دوه اونۍ وروسته د طالبانو تر مشرۍ لاندې انتقالي حکومت ته واک انتقال کړي. متحده ایالات او ناټو به د دغه تړون له مخې د حامد کرزي نړيوال هوايي ډګر پوځي برخه تر کنترول لاندې ولري څو، په ځانګړي ډول د بهرنيو اتباعو، د تخليې چارې پر مخ بوځي. د دغه تړون له مخې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د شخړې د نه پيښېدلو اړتيا وه، د دې لپاره طالبانو ژمنه کړې وه چې له کابل څخه بهر او له هر هغه ځايه به لیرې پاتې شي، چې له نړيوالو عسکرو سره يې د ټکر رامنځته کېدلو احتمال پکې وي.

د طالبانو مشران پخپله هم له ښار څخه بيرون پاتې کېدلو ته ژمن وو، ځکه پوهېدل چې جنګيالي يې د يوه ګڼ ميشتي ښاري چاپېريال د اداره کولو لپاره روزنه نه لري. دغه خوځښت په ۲۰۱۵ کال کې د کندوز ښار له نیولو راوروسته هېڅ کوم ولايت نيولی نه و او د هغوی ډېری عسکرو تر دې وړاندې آن د کابل ښار ليدلی هم نه و. د طالبانو زعامت د خپلو جنګياليو له کمزورتيا څخه خبر و، چې  د ٦ ميليونه وګړو د يو ګڼ مېشتي پېچلي ښار اداره کول له جګړې کولو او په کليوالو سيمو کې د امنيت راوستلو سره توپير لري. د طالبانو د واحدونو غير متمرکز طبيعيت او د جنګياليو تر منځ د مسلکي توب نه شتون، د سياسي زعامت او پوځي کوماندانانو تر منځ د جدي کنترول پر سر پرلپسې اختلافات رامنځته کړل. د تړون د يوې برخې په توګه، د افغانستان اسلامي جمهوريت د ملي پوځ پوليس به په خپل حال پاتې کېدل او د طالبانو جنګيالي به پکې د رسمي انتقالي پروسې پر مهال ادغامېدل.

د اګست د ۱۵  نېټې پر سهار، د افغانستان اسلامي جمهوريت رهبري له طالبانو سره د ترتيباتو د نيولو لپاره موافق وو څو د انتقال پروسه پيل کړي. د طالبانو  پوځي کميسون مشر خپل جنګيالي کابل ښار ته له ننوتلو څخه په سختۍ سره منع کړل. د افغانستان اسلامي جمهوريت د ولسمشر د دفتر رئيس، کابل ښاريانو ته ډاډ ورکړ: "اندېښنه مه کوئ. هېڅ کومه ستونزه نشته. د کابل حالت تر کنترول لاندې دی." (محمد Allahoum او ۲۰۲۱). د کورنيو چارو وزير پر ټولنيزو رسنيو يو ثبت شوی غږ خپور کړ، "افغانان بايد اندېښنه ونکړي... پر ښار به هېڅ بريد و نه شي او انتقالي حکومت ته به واک په سوله ييز ډول انتقال شي" (بلومبرګ ۲۰۲۱). د ولسمشرۍ ماڼۍ يوه مشر مامور د دې خبر په اورېدلو سره اندېښنه څرګنده کړه، چې مرستيال ولسمشر امرالله صالح په هغه سهار له وسلو سره د پنجشير پر لور تللی دی، ځکه داسې ښودل کېدله چې د جګړې موقعيت له کابل څخه بهر ته رسېدلی و.

د ولسمشر ناڅاپي تګ د هغه د سلاکارانو په ګډون د ولسمشرۍ ماڼۍ مامورينو لپاره ډېره هېښوونکې وه. هغه په دغه ورځ د غرمنۍ پر مهال له څه ويلو پرته ارګ پرېښی و او د دوی د ورونکو هليکوترو غږونه هم

په هغه فضا کې چې له امریکايي الوتکو ډکه وه ډېره توجه نه جلبوله. دغه خبر په ډېره چټکۍ خپور شو، چې ولسمشر ارګ پرېښی دی او د کابل ښار ټول امنیتي تنظیمات په یوه ساعت کې پر بشپړ ډول سقوط وکړ. د غلو فرصتطلبه ډلو د طالبانو په جامه کې هڅه وکړه چې بانکونه او شخصي کورونه ولوټي. کابل په ډېره چټکۍ د پراخه ګډوډۍ تر تهدید لاندې راغی.

د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون، د افغانستان اسلامي جمهوریت لوړپوړو چارواکو له طالبانو وغوښتل، چې د امنیت د رامنځته کولو لپاره کابل ښار ته داخل شي. طالبان، که څه هم د هغه ترون د ناڅاپي سقوط په اړه شکمن وو، چې رامنځته کېدلو یې ډېرې اونۍ وخت اخیستی و، پرېکړه وکړه چې ښار ته ننوځي او د امنیتي حالت مسؤولیت په غاړه واخلي. هغوي ماسپښین ناوخته کابل ته ننوتل او د مازیګر په ٦ بجو په ولسمشرۍ ماڼۍ کې موجود وو. د اسلامي جمهوریت یو پخوانی چارواکی، په کابل ښار کې د نظم د چټک رامنځته کېدلو نسبت، د طالبانو له لورې عاجل ګام پورته کولو ته کوي.

## د طالبانو مؤقت پړاو او د ټولشمولتوب لپاره تمې

د هغه نظر برعکس، چې په دوحه کې د افغانانو خپلمنځي د سولې پروسه و نه توانېدله، چې د واک د یوه تر بحث لاندې نیول شوي انتقال پر لور جدي پرمختګ وکړي، د اګست د ١٥ نېټې رامنځته کوونکې پېښې ښیي، چې افغان لوریو پخپل منځ کې او امریکایانو سره یوه دوستانه موافقې ته رسیدلي وه. له یوې کوچنۍ خو اغېزمنې ډلې خلکو پرته، افغان لوري د واک د انتقال په اړه موافق وو. له پوځي پلوه په ماته خوړلي اسلامي جمهوریت کې اکثره چارواکو د دې تر منځ توپیر کولی شو، چې د افغانستان د ثبات لپاره څه اړین دي او هغه څه شی دی چې د یو څو خاصو کسانو ګټې پکې خوندي کېږي.

هغه شریکه موخه، چې افغان لوریو د یوه بانظمه انتقال لپاره ورته کار وکړ، د هغې ګډوډۍ په تیارو کې تته شوه، چې د ترون له ماتېدو څخه وروسته په هوايي ډګر کې رامنځته شوه. خو د دواړو لوریو هغه ورتیا، چې د قانون له مخې د واک د انتقال ترون ته ورسیږي، نه یوازې د افغانستان اسلامي جمهوریت عملګرایی ښیي، بلکې د طالبانو هغه اوږدمهاله ستراتیژي هم ښیي چې د ولایتونو د تسلیمۍ لپاره یې مرکه کول.

د کابل له سقوط څخه مخکې له نیم کال څخه ډېره موده، د طالبانو په حرکت کې قومي مشرانو، په محلي کچه له پوځي او ملکي واکمنو سره مذاکرات کول څو دواړو لوریو ته د منلو وړ شرایطو له مخې تسلیم شي. د طالبانو له لورې په ژمنو کې بخښنه او خوندیتوب، او ځینو والیانو ته د دې امکان چې له یوه کال وروسته به بېرته خپل منصبونه ورکړل شي. دغه وړاندیزونه په کافي کچه هڅوونکي وو، چې په ځینو ولایتونو کې محلي چارواکو د نورو ولایتونو د تجربو له اورېدلو څخه وروسته له طالبانو سره مذاکرات پیل کړل. طالبانو او د افغانستان اسلامي جمهوریت دواړو د شخړې د یوه سوله ییز پای په اړه مذاکراتو لپاره یوه اوږدمهاله تګلاره خپله کړې وه، که څه هم لاره او طریقې یې بېلې وې.

واک ته له رسېدلو څخه په څو ورځو کې، د طالبانو زعامت د هغې ټولشموله حکومتولۍ د بڼې په اړه پوهاوی وښود، چې د افغانانو او نړیوالې ټولنې د ډاډمن کېدلو لپاره ورته اړتیا ده، چې طالبان کولای شي د دغه هېواد مختلفې ډلې په یوه مردم-سالاره او د حقوقو پر بنسټ حکومت کې راټولې کړي. افغانانو او نړیوالو څارونکو دغو کړنو ته په خوشبینانه نظر د اصلاح راوستونکو په توګه ولیدل، چې د طالبانو د هغو پالیسیو پر خلاف وو، چې په نوي یمو کلونو کې یې تطبیق کړې وې. د طالبانو ویاند، ذبیح الله مجاهد، د عمومي عفوې، د غلا او قتل په ګډون د طالبانو له لورې د غچ اخیستونکو کړنو منع، د شریعت مطابق د ښځو حقونو ته درناوی، د مذهبي او نژادي لږه کیو خوندیتوب او د نجونو او هلکانو د ښوونځیو بېرته پیلېدل اعلان کړل (AJE 2021c; AJE 2021d). له پخواني ولسمشر حامد کرزي او د ملي پخلاینې د عالي شورا مشر، عبدالله

عبدالله، سره د یوه ټولشموله حکومت جوړولو لپاره مذاکرات جاري وو (AJE2021d). د کابل له سقوط څخه دوه ورځې وروسته، د دغه هېواد پر تر ټولو ستر تلویزیون د طالب چارواکو او یوې ښځینه خبریالې تر منځ یوه رسنیزه مرکه خپره شوه. رسنیزو ادارو ته هم د هغوي د کار د دوام د حق ډاډ ورکړل شو (Relman 2021). په کابل کې د طالبانو جنګیالیو ښځو او نورو افغانانو ته اجازه ورکړه، چې د هغوي پر خلاف مظاهره کې برخه واخلي (Jain and Marks 2021).

له ګډوډیو ډکې پرلپسې پېښې، چې طالبان یې واک اخیستلو ته مجبور کړل، په کابل او نورو ښاري مرکزونو کې د دغه خوځښت لپاره د یو شمېر ستونزو په زیاتېدلو کې مرسته وکړه. د دغه خوځښت د پولیسي وړتیاوو کمزورۍ هغه وخت څرګندې شوې، کله چې یې د مظاهره چیانو پر وړاندې له ډېر زور څخه کار واخیست. په منظم ډول د واک سپارلو سره به د هغو مظاهره چیانو شمېر کم وای، چې سرکونو ته د مظاهرو لپاره یې ځان مجبور ګڼلی، ځکه چې پلان شوې انتقالي پروسې به دغو افرادو ته د دوامداره ثبات او په یوه ټولشموله افغان ټولنه کې د هغوي د بنسټیزو حقونو په اړه ډاډ ورکړی وای. له دې پرته، څنګه چې په اصلي ټرون کې بیان شوي دي، که چېرې د اسلامي جمهوریت پولیسو او ملي اردو خپلو چارو ته دوام ورکړی وای، د بې وسلې ملکیانو د کړاو امکان به له منځه تللی وای.

واک ته له رسېدلو څخه وروسته په یوه میاشت کې دننه، د طالبانو حکومت ته حالت خراب شول او د طالبانو د وړتیا په اړه د افغانانو هغه هیلې، چې په افغانستان کې به جګړه پای ته ورسیږي، په مړاوي کېدو دي. طالبانو د سپتمبر میاشتې په لومړیو کې، په کابل او نورو ښارونو کې د پراخو مظاهرو په سوله ییز ډول مدیریت کې له ځانه وړتیا ونه ښودله. د کابل په ځینو برخو کې د ښځو حقونو لپاره او د پاکستان د لاسوهنې خلاف مظاهرې له ناآرین تاوتریخوالي سره مخ شوې او یو شمېر هغه ژورنالستان چې دغو مظاهرو ته یې پوښښ ورکوه ونیول شول او شکنجه شول (لطیفي ۲۰۲۱). په کابل او د هېواد په ځینو نورو سیمو کې، د ملي امنیت کارکوونکو او د ژورنالستانو او مدني فعالانو په څېر نورو زیانمنونکو ډلو پر وړاندې هدفي بریدونه هم وشول او ووژل شول.

د سپتمبر په ۷ نېټه، د سرپرست حکومت کابینه اعلان شوه او دا د هغو افغانانو د تمو پر خلاف وه چې فکر یې کوه غیر طالبان شخصیتونه، ښځې، شیعه ګان او نورې ډلې به هم په انتقالي حکومت کې ځای ولري. ټول وزیران د طالبانو د ډلې خلک وو، چې له ۳۴ تنو څخه ۳۱ تنه یې پښتانه وو. دغه کړنه د نورو افغان سیاسي ډلو له لورې تر سختې نیوکې لاندې راغله (یاد ۲۰۲۱). ځینو یې ادعا درلوده چې د طالبانو له لورې د یوه غیر ټولشموله سرپرست حکومت رامنځته کولو تر شا لامل، هغه وېره وه چې کلیدي افرادو ته د وزارت منصب نه ورکولو لامله به په دغه ډله کې داخلي درز رامنځته شي (رحیمي ۲۰۲۱). دا هغه پوښتنه راپورته کوي، چې دغه خوځښت به څه ډول د متنوع سیاسي ډلو درلودونکی یو هېواد اداره کړي په داسې حال کې چې د خپلو غړو د اداره کولو لپاره هڅې کوي. سرپرست کابینې ته د ډېر افغانان او نړیواله ټولنه د شک په سترګه ګوري چې ایا طالبان د نوي یمو کلونو په پرتله په بنسټیز ډول بدل شوي دي که نه، څو هغه لاس ته راوړنې وساتي چې افغانانو په تېرو دوو لسیزو کې درلودلې.

## د نړیوالو له لورې په رسمیت پېژندنه مبهمه پاتې ده

د نړیوالو له لورې په رسمیت پېژندنه، له نړیوالې ټولنې سره د نوي حکومت د اړیکو د بریا لپاره مهمه ده؛ دا د حکومت لپاره د یوې دروازې حیثیت لري چې نړیوالې مرستې، بهرنۍ مستقیمې پانګونې او په نړیوال فورم کې مساوي غړیتوب ته لاسرسی پیدا کړي. د نړیوالو له لورې په رسمیت د پېژندلو اهمیت، د افغانستان په څېر هېواد لپاره، چې د نړیوالو پر مرستو متکي وي او د مرستو جریان یې د ناخالصو کورنیو

تولیداتو ۴۳ سلنه جوړوي، لا ډېر زیات دی (نړیوال بانک ۲۰۲۱). آن که چېرې د دغه هېواد په پوځي برخه او د ترهګرۍ خلاف جګړه کې د لګښتونو کموالی، تر جګړې وروسته د حکومت بودیجه کې ځای شي، د ملي بیارغونې او افغانستان لپاره د پرمختیایي تګلارو د رهبرۍ لپاره د طالبانو د حکومت د موخو او ورته د موجودو پیسو تر منځ پراخ واټن موجود دی.

له نړیوالې ټولنې څخه په یوازیتوب کې او یوازې پر کورنیو عوایدو تکیه کول، په افغانستان کې د اوږدمهاله بیارغونې او پرمختیا لپاره ممکنه تګلاره نه ده. له دې سره به د طالبانو حکومت مجبور شي چې خپلو بهرنیو پالیسیو ته له هغو نړیوالو شریکانو سره مطابقت ورکړي چې مالي ملاتړ یې وکړي؛ که چېرې لویدیځ هېوادونه له دغه ډول ښکېلتیا څخه ځان ټول کړي، طالبان به د احتمال له مخې د ختیځ پر لور چین او روسیې ته مخ واړوي.

په افغانستان کې د هر نوي حکومت په رسمیت پېژندنه د یو شمېر فکتورونو لامله پېچلې ده، چې د ولسمشر غني د استعفا قانوني څرنګوالی، طالبانو ته د واک د انتقال ماهیت او د افغانانو او بهرنیو اتباعو پر وړاندې د طالبانو له لورې تاوتریخوالی پکې ګډون لري (Paddeu& Pavlopoulos 2021). د سرپرست حکومت تشکیل او د افغانستان اسلامي امارت د بیا رامنځته کېدلو اعلان، یوازې یو اضافي خنډ رامنځته کولی شي او د نړیوالو له لورې په رسمیت پېژندنې څخه لیرې کېږي. نړیواله ټولنه هڅه نه کوي چې د یوه ټولشموله حکومت لیدلو په هیله پر افغانستان نااشنا ارزښتونه تحمیل کړي. د موافقې او ټولشمولتوب حالتونه په افغان ټولنه کې ژورې ریښې لري، چې د نوي سیاسي نظام د مشروعیت لپاره باید د بنسټ په توګه کار ورکړي.

متحده ایالاتو ویلي دي چې د طالبانو په رسمیت پېژندنې ته لا وخت شته او اروپایي ټولنې او برتانیې هم نوی حکومت په رسمیت پېژندلی نه دی (Reuters 2021; AJE 2021e). دغه مخکښ نړیوال هېوادونه به چې په تېرو دوو لسیزو کې یې د افغانستان په بیارغونه کې پر سرچینو او د انسانانو د ژوند په ښه والي کې ډېره پانګونه کړې ده، د احتمال له مخې په نږدې موده کې امارت په رسمیت و نه پېژني. د کورنیو چارو د وزیر په توګه د سراج الدین حقاني ټاکنې، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر بندیزونو لاندې دی، نړیوالې ټولنې ته په ځانګړي ډول یو ننګونکی پیغام واستوه. له ۱۹۹۶ کال څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې تر اسلامي امارت لاندې د یوې ډلې د حاکمیت په موده کې، یوازې دریو هېوادونو (پاکستان، سعودي عربستان او متحده عربی امارات) له طالبانو سره ډیپلوماتیکې اړیکې درلودې. دا به له امکان لیرې وي، چې له دغو دریو هېوادونو څخه کوم یو یوازینۍ ډله اسلامي امارت په رسمي توګه وپېژني، ځکه پاکستان ویلي وو چې په رسمیت پېژندنه به یوه سیمه ییزه پرېکړه وي، چې له سیمه ییزو او نړیوالو قوتونو سره له څو اړخیزو سلا مشورو وروسته به ونیول شي (Dawn 2021).

د نوي حکومت اعلان ته د رابلل شوو هېوادونو لست – چین، روسیه، پاکستان، قطر، ایران او ترکیه – یوه اشاره ده چېرې چې طالبان د رسمیت پېژندنې لپاره خپل چانسونهویني. روسیې او ترکیې، د طالبانو په رسمیت پېژندنه کې بېړه نه کوي او د یوه ټولشموله حکومت د جوړولو غوښتنه یې کړې ده. د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر Mevlut Cavusoglu په خپل یوه ټویټ کې وویل چې ‘نړۍ ته زموږ مشوره دا ده چې موږ باید د طالبانو په رسمیت پېژندلو کې له بیړې کار وانخلو’ (Erim 2021). د سرپرست حکومت تر اعلان وړاندې، د قطر د بهرنیو چارو مرستیال وزیر، لولوه الخاطر، AFP ته وویل چې ‘طالبانو له ځانه ډېر پراګماتېزم وښود. رازئ چې فرصتونه له لاسه ورنکړو... او د هغوي عامه کړنو ته وګورو. موږ په رسمیت پېژندنه کې له بیړې کار نه اخلو، خو موږ په بشپړ ډول ورسره اړیکې هم نه پرې کوو... موږ منځنۍ لار غوره کوو’ (Lauras 2021).

# مرسته، اتکا او اغېزه

د رسمیت پېژندنې د ستونزې په نظر کې نیولو پرته، دا مهمه ده چې ژوند – ژغورونکې بشري مرستې باید دوام ولري. MSF او نورو مرستندویه ډلو په افغانستان کې د ځرګند بشري بحران، د عامې روغتیا د سیستم د سقوط او د خوړو د سترو کمبودیو خبرداری ورکړی دی (AJE 2021a). اروپایي ټولنه هم د بېځایه کېدنې د ستر بحران په مخنیوي کې ډېره دلچسپي لري، ځکه پوهیږي چې ایران او ترکیه به اروپا ته د داخلېدلو لپاره کډوالو ته خپلې دروازې پرانیزي. خو، په داسې حال کې چې ډېری بسپنه ورکوونکي غواړي چې د بشري بحران مخه ونیسي، افغانستان لپاره هر ډول مرسته د کور دننه منفي غبرګون سره مخ کیږي ځکه چې د طالبانو د ملاتړ ګومان ورباندې کیږي.

د دې لپاره چې دغه ستونزه رامنځته نه شي، ډېرو بسپنه ورکوونکو خپلو بشري مرستو ته دوام ورکړی دی، خو د غیردولتي موسسو له لارې یې ترسره کړي دي څو نوي امارت ته هېڅ ډول مشروعیت ور نه کړل شي. په اوږد مهال کې، د بشري حکومتولۍ دغه ډول یوه نمونه به احتمالاً د نړیوالې مرستې د سېستم طریقې بدلې کړي، د کوم لاندې چې غیردولتي، موازي ظرفیتونه راځرګندیږي څو اړین خدمات چمتو کړي او په دې ډول به د دولتي ادارو د بیارغونې او د حکومت او ملکیانو تر منځ د باور جوړونې له اصلي دندې څخه به یې پام واوړي.

پر بهرنۍ مرستې د افغانستان تکیه هغه مهال له یوه سخت ګوزار سره مخ شوه چې متحده ایالاتو د افغانستان بانک ۹.۵ میلیارده ډالر پانګه کنګل کړه (Paddeu and Pavlopoulos 2021). نړیوال بانک د افغانستان لپاره خپلې مالي مرستې قطع کړې او د راپور له مخې د افغانستان د بیارغونې فنډ راتلونکی هم ځرګند نه دی (AJE 2021b). متحده ایالات او نور، دغې اتکا ته د اغېزې/ کنترول د یوې سرچینې په توګه ګوري او هیله لري چې له دې لارې کولای شي چې طالبان د منځلاري حکومت انتخابولو لپاره وهڅوي.

د افغانستان بانک پخواني رئیس د کوچني اقتصاد د ثبات پر وړاندې ډېرې مهمې ننګونې په ګوته کړې دي. امکان لری د افغانستان بانک  د نورې نړۍ له لورې له بندیزونو سره مخ شي او دا چې افغانستان خپلې پیسې نه چاپوي به د مالي او پیسو بحرانونو لپاره شرایط وپنځوي. له دې پرته، د اقتصادي زېربنا هغه پلان شوې پروژې چې اضافي عاید به یې راوړي، لکه د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان – هندوستان د ګازو د نل لیکې پروژه (ټاپي) به نوره مخکې لاړه نه شي او له معدني سرچینو څخه د ګټې اخیستلوتمې به کمې شي ځکه چې نړیوال شرکتونه به د طالبانو له حکومت سره په داسې پروژو کې په همکارۍ کولو خپل اعتبار په خطر کې وا نه چوي (احمدی ۲۰۲۱).

# سپارښتنې

افغانان له څو لسیزو وروسته یو ځل بیا تر یوه نظام لاندې راټول شوي دي؛ په افغانستان کې پرمختیا، بیارغونې او ملي خپلواکۍ ته د ودې ورکولو په برخه کې د طالبانو ګټې، د افغانانو او د نړیوالې ټولنې له ګټو سره مطابقت لري، چې یوازې د ترهګرۍ پر خلاف مبارزه پکې مستثنا ده. طالبانو د زور له لارې دغه هیواد بېرته سره یو ځای کړ، خو که چېرې دغه هیواد باید تر یوه حکومت لاندې ثابت پاتې شي، تر دې وروسته د زور کارولو وخت پای ته رسېدلی دی. د طالبانو حکومت له سترو ننګونو سره مخ دی، څنګه چې پخوانی حکومت له نورو وروسته په دغه دنده کې پاتې راغی (اسلامي جمهوریت، همدا راز د مجاهدینو حکومت او د کمونستانو رژیم). په پخوانیو ادارو کې، په ولایتونو کې د ناخوښیو شتون او د پنجشیر په څېر سنګرونو کې بغاوتونه هېڅکله ختم نه شول، چې د بې پایه جګړې لپاره یې تخمونه زرغونول.

اوس د دې وخت رارسېدلی، چې بېرته هوساینه راشي، د خلکو د معیشت او شخصي خونديتوب اندېښنې ختمې شي او یوه سوله ییز نظام لپاره د حکومت د ادارې راتلونکی پړاو پیل شي. لاندې یادې شوې سپارښتنې د طالبانو او نړیوالې ټولنې له لورې عاجلو اقداماتو ته اړتیا لري څو دغه بې ثباته حالت پای ته ورسیږي او د ګډوډۍ مخه ونیول شي. په داسې حال کې چې له دغو کړنو څخه ډېرې یې یوازې د طالبانو په لاس پلي کېدلی شي، دا به په افغانستان کې د دخیلولو لپاره د نړیوالې ټولنې د ځواب هڅوونکې کړنې وي.

## یوه ټولشموله حکومت ته انتقال لپاره یوه څرګنده او په وخت پورې محدوده د ټګلاره ترتیب کړئ

**د یوه داسې ټولشموله حکومت جوړولو لپاره ژمن اوسئ چې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي**: دا چې له څو لسیزو وروسته په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره تر واحدې ادارې لاندې یو حکومت رامنځته شوی دی، د طالبانو رهبري باید قومی دښمنیو ته د پای ټکی کېږدي او یو داسې ټولشموله حکومت جوړ کړي چې د طالبانو ګټې پکې د افغانستان او افغانانو له ګټو سره مطابقت ولري. د سرپرست حکومت ترکیب د ډېرو خلکو هغه وېره تصدیق کړه چې طالبان به له واک څخه د یوه فرصت په توګه په ګټه اخیستنه د نورو سیاسي ډلو د ګټو په بیه خپلې ګټې خوندي کړي. د افغانستان اسلامي جمهوریت پخواني مامورین هم د ټولشموله حکومت په اړه د طالبانو د رهبرۍ د نیتونو د پاکوالي په اړه شکمن دي.

د دې تمه کېده چې طالبان به د کورنیو چارو، دفاع، مالیې او بهرنیو چارو په څېر مهم وزارتونه خپلو اړونده کسانو ته ورکړي، خو دغه فرصت هغه مهال له لاسه ووت  چې د روغتیا او پوهنې په څېر خدماتي وزارتونه هم انحصار شول. دې ته باید د یوه فرصت په توګه لیدل شوي وای څو د پیاوړو تخنیکي وړتیاوو درلودونکو افرادو د ګومارنې له لارې په حکومت کې سیاسي شمولیت رامنځته شوی وای. افغانستان دوه لسیزې نړیوالې مرستې ترلاسه کړې دي څو په عامه حکومتولۍ کې د ټولو قومي او مذهبي شالید درلودونکو افغانانو تخنیکي او ادارې وړتیاوې لوړې کړي. همدا ماهر ملکي مامورین، مسلکي اشخاص او د مدني ټولنې متخصصین دي چې د یوې اغېزمنې حکومتولۍ د مشرۍ لپاره روزل شوي دي. په سرپرست حکومت کې د معیناتو په کچه د دغو ماهرو او متنوع ډلو (د هغوی نژاد او سیاسي لید ته له کتو پرته) د ګومارنې مشوره ورکول کیږي او د ټولشموله حکومت په اړه د طالبانو د زعامت د نیتونو د پاکوالي اړوند شکونو لیرې کولو لپاره اړینه ده.

**پر یوه ټولشموله حکومت د یوې ملي موافقې لپاره لویه جرګه راوبلئ**: په هغو ترتیباتو کې چې د اګست پر ۱۵  نېټه د ولسمشر غني له ناڅاپي تګ وروسته باید له منځه لاړ شي، د یوې لویې جرګې رابلل هم شامل وو. لویه جرګه د افغانانو یوه عنعنه او دود دی چې د ملي اهمیت درلودونکو پرېکړو په اړه د موافقې لپاره د هېواد مختلف قومونه او قبیلې پکې راټولیږي. په راتلونکو اونیو کې د یوې لویې جرګې رابللو لپاره اعلان به د یوه مشروع، مردم-سالاره او ټولشموله حکومت د جوړښت لپاره د یوې پراخه موافقې رامنځته کولو پروسه پیل کړي. سره له دې چې ځینې طالب مشران باور لري چې د کابل له سقوط او له ولسمشر غني سره د ترون د لغوه کېدو لامله د جرګې وخت تېر شوی دی، په افغانستان کې رامنځته کېدونکې سیاسي اختلافات د حکومت د مشروعیت د مشهورو طریقو راستنېدلو ته اجازه ورکوي. لویه جرګه د اسلامي جمهوریت، طالبانو او په ښارونو او اطرافو کې له مشروعیت څخه برخمنه ده. د دوه ورځنۍ مؤقتې غونډې په کوربه توب او له ټولو ولایتونو څخه د استازو په رابللو سره، څو راتلونکی دایمي حکومت وټاکي، او وروستۍ ورځ یې د پیل لپاره ټاکل شوي وي، افغانانو ته به وښيي چې طالبان د ملي ګټو پر بنیاد حکومت کولو اراده لري.

د افغانستان له ګاونډيو هېوادونو څخه هم ښايي استازي راوبلل شي څو د دغې پروسې څارنه وکړي او د راتلونکي لپاره نړيوال ملاتړ وښيي.

## په يوه نوم کې څه دي؟ د يوه متحد افغان ملت سمبولونه

**د افغانستان حکومت لپاره پر يوه متحد نوم موافقې ته ورسېږئ؛ بېرته اسلامي امارت ته مه ورګرځئ**: تازه علايم ښيي چې طالبان په بشپړ ډول د اسلامي امارت اعلانول په پام کې لري، دا د اندېښنې وړ ده ځکه چې طالبانو د خپلې پوځي بريا لمانځل پيل کړي دي (برکات ۲۰۲۱؛ نيويارک ټايمز ۲۰۲۱). تر کومه چې د افغانستان له حکومت سره د اسلامي امارت نوم تړلی وي، طالبان به د افغانانو د يووالي له هڅو خلاص نه شي.

که څېرې طالبان پر خپلو شخصي ګټو د خلکو ګټو ته لومړيتوب ورکړي، د افغانستان اسلامي امارت د نوم پر سر بحث به ډېر مهم نه وي. اسلامي امارت ته بېرته ګرځېدنه به ډېر افغانان او د دغه هېواد ګاونډيان او نړيواله ټولنه له دوي څخه بېل کړي. د ۲۰۲۱ کال په مارچ مياشت کې، متحده ايالاتو، روسيې، چين او پاکستان، د ماسکو په يوه بين الافغاني کنفرانس کې، په يوه ګډه اعلاميه کې د اسلامي امارت بېرته راګرځېدنه رد کړې وه (MFA Russia 2021). ځينو د افغانستان اسلامي جمهوريت او د افغانستان اسلامي امارت تر منځ 'د افغانستان اسلامي دولت' نوم تجويز کړی و.

**د افغانستان د اوسني بيرغ بدلول ډېرو افغانانو لپاره يوه جنجالي ستونزه ده**: بيرغ د افغانانو د هؤيت او له دولت سره د هغوي د تړاو يو مهم سمبول دی. دا په ۱۹۱۹ ميلادي کال کې له برتانيې څخه د افغانستان د خپلواکۍ اخيستلو پر مهال رامنځته شو او له هغه وروسته د شوروي اتحاد پر خلاف جهاد کې هم موجود و. دا د هر چا بيرغ دی او په هيچا پورې محدود نه دی.

طالبان بايد په ۱۹۹۲ کال کې د جمعيت اسلامي له تېروتنې څخه زده کړه وکړي، چې هغوي دغه درې رنګه بيرغ پر خپل شين، سپين او تور رنګه بيرغ بدل کړ. هغه وخت، ډېرو افغانانو له يوه متحد سمبول سره د خپل تړاو احساس له لاسه ورکړ ځکه چې د يوې ډلې پر بيرغ بدل شو. ځينې مثبتې نښې شته چې طالبان لږ تر لږه د اوس مهال لپاره دغه بيرغ ساتي. د سياسي کميسون مرستيال مشر، ملا برادر، د المان د بهرنيو چارو له وزير سره د دوديز بيرغ تر شا وليدل. په همدې ډول، ملا عباس ستانکزی، چې په دوحه کې د طالبانو د مذاکراتي ټيم له مخکښو مرکچيانو څخه دی، د چين له هيآت سره وليدل. د دې يادونه اړينه ده چې وويل شي، د طالبانو بنسټګر ملا عمر هم د راپورونو له مخې له دغه بيرغ سره کومه ستونزه نه ليدله.

د دغه بيرغ د بدلولو عملي کول هم ښايي يو مخنيوونکی فکتور وي. طالبانو په ۱۹۹۰ کلونو کې په خپل تېر حکومت کې، د پنځو کلونو لپاره د کمونستانو د وخت پاسپورتونه کارول ځکه چې د بدلولو لپاره يې د لوژيستيک د مديريت وړتيا نه درلوده.

## د امن او ارامۍ بېرته راوستلو لپاره د افغانانو اندېښنې له منځه يوسئ

په افغانستان کې تر بحث لاندې د ډېرو جنجالي سياسي موضوعاتو په پرتله، د افغانانو د هوساينې اړتيا ډېر لومړيتوب لري. کله چې خلک ډاډه شي چې معيشتونه يې له خطر څخه وتلي دي، د وېرې کچه به ډېره کمه شي او طالبان به وتوانيږي چې د ملکي افغانانو اصلي غوښتنې وپېژني او د حل لپاره يې ګام پورته کړي.

د اسلامي جمهوريت له سقوط وروسته د خلکو تر منځ وېره موجوده وه، چې ايا حکومت به فعاليت ته دوام ورکړي که نه. دا چې اوس د دولت او د ټولنيزو خدماتو د دوام لپاره هڅې ځرګندې دي، افغانان اندېښمن

دي چې د ورځني ژوند د بیا پیل لپاره اړتیاوې څه وخت راستنیږي. دغه اندېښنې په ښاري سیمو کې چې خلک پر فعال مالي سیستم متکي دي، ډېرې دي . سوداګرۍ باید پرانیستل شي، خلک باید وتوانیږي چې اخیستل وکړي او د خپلو غوښتل شوو شیانو اداینه وکړي او همدا راز بانکونه باید وتوانیږي چې عادي ورځنۍ غوښتنې پوره کړي.

که چېرې طالبان وتوانیږي چې ژوند بېرته عادي حالت ته راستون کړي او افغانستان له هغې ګډوډۍ وباسي چې له پخواني حکومت څخه ورپاتې شوه، دا به عامو افغانانو ته یو مهم پیغام ورسوي چې طالبان د حکومت کولو وړتیا لري.

**د ملکي مامورینو معاشات د لومړیتوب له مخې په چټک ډول ورکړئ:** له ډېرو مهمو کارونو څخه یو مهم کار چې د طالبانو حکومت یې باید ترسره کړي، د ملکي مامورینو د معاشاتو ورکول دي. د دغه هېواد ۴۲۴۰۰۰ ملکي مامورین، د افغانستان نفوس مهمه برخه ده، دوي هغه تخنیکي مهارتونه لري، چې د یوه انتقالي پړاو په پرمخ بیولو کې د حکومت د ملاتړ لپاره ورته ډېره اړتیا ده. د روزل شوو کارکوونکو نه شتون به د حکومت په وزارتونو کې یو بحران رامنځته کړي او د بنسټیزو خدماتو باقاعده فعالیت به فلج کړي، داسې لکه په کابل هوایي ډګر کې چې د روزل شوو هوایي ترافیکو کنټرولوونکو نه شتون د خلکو د مدیریت د نه وړتیا یو بحران رامنځته کړی و (هغوي تر نورو مخکې وتلي وو).

د شریعت مطابق، د ملکي مامورینو د معاشاتو ورکول د حکومت مسؤولیت دی. د مالي مدیریت دغه کچه طالبانو لپاره نوې او ناآشنا ده، د هغوي ډېری برخه له ساده ژوند سره بلد دي او په کابل کې د لوړو حکومتي معاشاتو په لیدلو سره حیران دي. د افغانستان بانک د شتمنۍ د نړیوال کنګل کېدلو لامله طالبان په غیر طبیعي حالاتو کې موقعیت لري او د دغې کچې د مالي ادارو په مدیریت کې له لږې تجربې درلودلو سره ځانونه په مالي بحران کې واقع ګوري. آن پر کابل له تسلط څخه مخکې، پخواني حکومت د ځینو ملکي مامورینو معاشات په بشپړ ډول نه دي ورکړي او ادعا یې درلوده چې دا په ۲۰۱۹ کال کې د متحده ایالاتو له لورې د یو میلیارد ډالرو د مرستې د قطع کولو لامله وه. د پالیسۍ د دغه لنډیز د خپرولو پر وخت، لږ تر لږه دوه میاشتې د ملکي مامورینو معاشات ورکړل شوي نه دي.

د افغان دولت بېوزلي یو د زغم وړ خنډ دی، چې طالبان به یې له منځه یوسي ځکه چې د دغه دولت له لورې آن د یوې میاشتې دولتي معاشاتو ورکړه به هم رواني اغېزه ولري. دا به یو څرګند پیغام واستوي چې ژوند بېرته عادي حالت ته راګرځېدلی دی او د خلکو تر منځ به د هوساینې کچه لوړه کړي.

**په کابل او مهمو ښارونو کې پولیس په حکومتي یونیفورم کې وګومارئ:** د اګست پر ۱۵ نېټه، په کابل کې د امنیت د ساتلو او د چور او چپاول د خپرېدو د مخنیوي لپاره، د طالبانو چټکو اقداماتو د دغې ډلې اعتبار زیات کړ . سیاسي زعامت د امنیتي ستونزو په برخه کې د سمووکو کړنو په ترسره کولو سره ډېره ژمنتیا وښوده؛ د اګست پر ۳۰ او ۳۱ نېټو، د طالبانو د بریا د لمانځنې په هوایي ډزو کې چې دوه تنه ملکیانو پکې ژوند له لاسه ورکړی و او یو درجن نور ټپیان شوي وو، طالبانو د پولیسو مشر ونیو او مسؤول واحد یې بې وسلې کړ.

په ښارونو کې د مسلکي پولیسو ګومارنه د دغه خوځښت لپاره یوه مهمه ننګونه ده او په نوي حکومت کې د ملي امنیتي ادارو د ودې د برخې په توګه به اوږدمهاله روزنې ته اړتیا ولري. په سمدستي ډول، په ښارونو کې په حکومتي یونیفورم کې د پولیسو ګومارنه، په سوله ییز ډول د مظاهرو د مدیریت له لارښوونو سره، به د ناامنۍ فضا له منځه یوسي او د طالبانو له لورې به هغه پروسه پیل کړي چې د افغانستان ښارونو ته پر ملکیانو متمرکز مسلکي امنیت چمتو کړي.

## هغه ښې ژمنې پوره کړئ، چې کړې مو وې

د ۲۰۲۱ کال په جولای میاشت کې، په روم کې د افغانستان په اړه کنفرانس کې، د طالبانو د سرپرست کابینه مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د شخړې یوه ټولشموله سوله ییز حل لپاره یو لړ بنسټیزې ژمنې کړې وې. له هغو ژمنو څخه ډېرې یې د طالبانو د ویاند، ذبیح الله مجاهد، له لورې د اګست پر ۱۷ نېټه بیا تائید شوې. دا اړینه ده چې پر پالیسۍ د هغو ایډیالونو د بدلولو یوه ګډون درلودونکې پروسه، د څرګندو موخو او مهالوېشونو له یوه سېټ سره پیل شي. د نوموړو ژمنو عملي کول به نه یوازې افغانان ارام کړي، بلکې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې ته به هم ډاډ ورکړي، چې د واک د سوله ییز انتقال پر وړاندې پېچلې ننګونې به له منځه لاړې شي.

**ښځو او لږه کیو ته د هغوي د حقونو او استازیتوب ډاډ ورکړئ:** د دې لپاره باید څرګندې ژمنتیاوې موجودې وي چې راتلونکی حکومت به په عمومي ډول د ښځو او مذهبي او قومي ډلو د رول اهمیت ته درناوی ولري او د هغوي د کار، ښوونځي ته د تګ او ازادانه ګرځېدنې حقونه به تضمین شي. په تېره میاشت کې د ښځو د حقونو د مظاهرو څپې د دغې ستونزې ډېروالی وښود، په ځانګړي ډول هغه ښځې مهمې دي چې د کورنیو سرپرستي په غاړه لري. د حکومت له اعلان وروسته، نارینه ملکي مامورینو ته بېرته خپلو کارونو ته د ستنېدلو اعلان شوی دی، خو ښځینه کارکوونکو ته په کور کې د پاتې کېدلو امر شوی دی. یوازې د پوهنې او روغتیا په سکتورونو کې ښځینه کارکوونکو ته د کار کولو اجازه ورکړل شوې ده (Khan et al. 2021).

طالب چارواکو له مذهبي لږه کیو سره لیدلي څو هغوي ته ډاډ ورکړي چې د خپلو مذهبي مراسمو په ترسره کولو کې به ازادي ولري. سره له دې، دغه ازادي به د ۱۹۶۴ کال د بنې په توګه، په راتلونکي اساسي قانون کې چې په بشپړه توګه به د حنفي فقهې پر بنسټ چمتو شي، د یوه حق په توګه ځای ونه لري. دغه حق به په عمل کې اجازه ولري، خو لیکلی حقوقي تضمین به و نه لري. د شیعه ګانو په څېر ځینو ډلو لپاره به دا یوه ستونزه وي، چې ناوړه ګټه ورڅخه اخیستل کېدلی شي.

**له پاکستان او نورو ګاونډیانو سره اړیکو لپاره په پام ګام پورته کړئ:** له خپل ملاتړي، پاکستان، سره د طالبانو اړیکې او د ښاري افغانانو تر منځ یې ګومانونه، د هغو افغانانو تر منځ د سترې غوسې لامل دی چې له نامشروع سیمه‌ییزې لاسوهنې څخه د ځان خلاصول غواړي. د مؤقتې پروسې په دغه نازک وخت کې به غوره وي، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د اړیکو حساسیت په پام کې ونیول شي څو د هغو رسنیزو تبلیغاتو مخنیوی وشي چې د طالبانو حکومت له بهرنیو هېوادونو څخه لارښوونې اخلي. کابل ته د پاکستان د استخباراتي اداري د مشر له سفر وروسته، د پاکستان پر خلاف په ښارونو کې د مظاهرو څپې، د طالبانو د خپلواکۍ انګور ته جدي تاوان ورسوه، چې طالبانو یې له خپلې هغې بیانیې سره مخه و نه نیولی شوه، چې نوموړې پاکستانی چارواکی رابلل شوی نه و. له ګاونډیو هېوادونو سره د حکومت د نارسمي اړیکو پر مهال باید له ډېر ډېپلوماتیک حساسیت سره چلند وشي څو ثبات وساتل شي. د دې لپاره باید له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د اړیکو له بربادۍ ډک تاریخ ته ولیدل شي.

**د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې په برخه کې د طالبانو له لورې شوې ژمنې پوره کړئ:** په مؤقت حکومت کې د ځینو سرپرست وزیرانو ګومارنې، له هغو ترهګریزو ډلو سره چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه ورباندې بندیزونه لګول شوي دي،د طالبانو د اړیکو په اړه اندېښنې راپورته کړې. د ملګرو ملتونو امنیت شورا په جون میاشت کې راپور ورکړ چې طالبان له القاعده ډلې څخه بېل شوي نه دي او د دواړو ډلو تر منځ د خپلوۍ پیاوړې اړیکې دوام لري (ملګري ملتونه ۲۰۲۱). پرته له دې چې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې عاجلې څرګندې او اعتباري ژمنتیاوې رامنځته شي، په دې اړه اندېښنې به چې آیا افغانستان به یو ځل بیا د نړیوالې ترهګرۍ کوربه شي، له ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره د نوي حکومت پر اړیکو اغېزه ولري.

## د اوږد مهال لپاره بشري لاسرسي ته لومړیتوب ورکړئ

**په افغانستان کې موجود بشري سیستم وژغورئ؛ پر بشري مرستو د شرایطو په ایښودلو یې مه زیانمنوئ**: د بهرنۍ مستقیمې پانګونې او پرمختیایي مرستې لپاره د طالبانو، بهرنیو بسپنه ورکوونکو او دولتونو تر منځ مذاکرات باید له ژوند – ژغورونکې مرستې څخه د هغوي کړنې په څرګند ډول بېلې کړي. دا د طالبانو په ګټه ده چې د بېړنیو مرستو پر مخنیوي به نه تورن کیږي، او د نړیوالو په ګټه هم ده چې د مخنیوي وړ بشري بحران لپاره شرایطو رامنځته کېدلو کې به مرسته و نه کړي، بلکې و به توانیږي چې له طالبانو سره د ښکېلتیا پر شرایطو وغږیږي.

دا اړینه ده چې بنسټیزو خدماتو لپاره بیړنۍ مرستې باید، د طالبانو کړنو ته له لیدلو پرته، هغو زیانمنونکو خلکو ته ورسیږي چې د نړیوالو مرستو ته اړتیا لري. په بنسټیزو خدماتو کې پوهنې، روغتیا، کورنیو لپاره د معیشت د ملاتړ مرستې او د وچکالۍ له منځه وړلو په ګډون په کلیوالو سیمو کې بېړنۍ مرستې ګډون لري. د بنسټیزو خدماتو د چمتووالي سره په کابل کې له نوي حکومت څخه به بوج لیرې شي او په عین مهال به په افغانستان کې بحرانونه مدیریت شي.

پر ژوند – ژغورونکې مرستې د نوي حکومت د پېژندلو شرط ایښودل، یا د پالیسۍ ډېر زیات شرایط، د مرستو د جریان د ځنډ او په افغانستان کې د مرستو د سیستم د له منځه تللو خطر رامنځته کوي چې اوسمهال فعال جوړښت لري. افغانستان د مرستو یو پراخ سیستم لري چې د ملي حکومت وزارتونه (روغتیا، پوهنه، کرنه، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت او نور) له ولایتونو سره آن هغه مهال هم په اړیکه کې ساتي چې د حکومت واګې له یوې ډلې څخه بلې ته انتقالیږي. دغه جوړښت د دولت له لورې تاسیس شوی او د نادولتي موسسو او نړیوالو موسسو له لورې یې مدیریت ترسره کیږي.

دا اړینه ده چې دغه سیستم او فعالیتونه یې د مرستو به سیستم کې په افغانستان کې دننه او د باثباته ګومارنې له مخې، د کارکوونکو وګړو په ساتنې سره، دوام وکړي. دغه کار یوازې د مرستې د پیسو د جریان په دوامنولو سره امکان لري چې د مرستندویه مسلکي کارکوونکو مسلسل معاشات او د پروژې بودیجې ورکړل شي. هغه وېرې، چې نړیواله ټولنه به مرستې او د هغوي معاشونه قطع کړي یا به هغوي د طالبانو تر رژیم لاندې خپل حقونه له لاسه ورکړي، دا به د راتلونکي اصلاح لپاره د افغانستان تر ټولو ډېر مهم ځواک د هېواد پرېښودلو ته اړ کړي. په راتلونکي کې د دغه سیستم د اغېزمنتیا د بیاکتنې لپاره به وخت وموندل شي، خو د اوس لپاره روزل شوو کارکوونکو ته د هغوي د خوندیتوب او حقونو په اړه ډاډ ورکول او په افغانستان کې د هغوي د تخنیکي ظرفیتونو ساتل او پاتې کول اړین دي.

# سرچینې


- احمدي، اجمل. ۲۰۲۱. طالبان پیسې چاپ کولی نه شي او د افغانستان د سوداګرۍ پر وړاندې نورې ننګونې. بلومبرګ. ۷ سپتمبر. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.bloomberg.com/opinion/articles/2021-09-07/the-taliban-can-t-mint-money-and-other-business-challenges-in-afghanistan?sref=KhY5gfAd

- AJE. 2021a. مرستندویه ډلې په افغانستان کې د بشري بحران خبرداری ورکوي. الجزیره انګلیسي. ۷ سپتمبر. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/9/7/un-ramps-up-afghan-aid-appeal-as-catastrophe-looms

- AJE. 2021b. Explainer. متحده ایالات او نور متحدین پر طالبانو څه کنترول لري؟ الجزیره انګلیسي. ۲ سپتمبر. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/9/2/what-leverage-do-us-allies-have-over-taliban-in-afghanistan

- AJE. 2021c. په کابل کې د طالبانو د لومړي خبري کنفرانس متن. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/8/17/transcript-of-talibans-first-press-conference-in-kabul.

- AJE. ۲۰۲۱. افغان نجونې په هرات کې د طالبانو له واکمن کېدلو وروسته ښوونځي ته ځي. الجزیره انګلیسي. ۱۸ سپتمبر. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/8/18/afghan-girls-return-to-school-in-herat-after-taliban-takeover.

- برکت، سلطان. ۲۰۲۱. ایا په افغانستان کې د یوه بحران مخه نیولی کېدلی شي؟ الجزیره انګلیسي. ۱۵ اګست. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.aljazeera.com/opinions/2021/8/15/can-a-disaster-in-afghanistan-be-averted.

- بلومبرګ. ۲۰۲۱. د افغانستان د کورنیو چارو وزیر. کابل خوندي دی. واک به په سوله ییز ډول طالبانو ته انتقال شي. یوټیوب ویډیو. Bloomberg Quicktake: ۱۵ اګست. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.youtube.com/watch?v=5TB8VwvGD5c.

- Cruickshank، پاول، لېسټر، ټیم او رابرټسن، نیک. ۲۰۲۱. ملګري ملتونه د ځینو طالبانو له لورې د تهدید خبرداری ورکوي، چې لا هم له القاعده سره تړاو لري. سي ان ان. ۳ جون. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://edition.cnn.com/2021/06/02/middleeast/un-report-taliban-afghanistan-al-qaeda-intl/index.html.

- ډان ورځپاڼه. ۲۰۲۱. په افغانستان کې د طالبانو د رژیم په رسمیت پېژندنه به یوه سیمه ییزه پرېکړه وي: فواد چودري. ډان نیوز. ۱۷ اګست. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.dawn.com/news/1641194

- اېرم، یوسف. ټویټر پوسټ. ۷ سپتمبر ۲۰۲۱. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://twitter.com/YusufErim34/status/1435143740239327234

- حق، نواز خان، شېباني مهتاني او سېمي وېستفال. ۲۰۲۱. د طالبانو بیرغ د کابل پر ولسمشرۍ ماڼۍ رپیږي په داسې حال کې چې نړۍ د سپتمبر د ۱۱ د پېښې ویر کوي. واشنګټن پوسټ. ۱۱ سپتمبر. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.washingtonpost.com/world/2021/09/11/afghanistan-taliban/

- جېن رامپام او لوسي مارکز. ۲۰۲۱. وختونه بدل شوي دي: ځینې افغان ښځې د طالبانو له راستنېدلو وروسته مبارزه کوي. رویټرز. ۱۸ اګست. په انلاین بڼه موندل کیږي: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/times-have-changed-some-afghan-women-defiant-taliban-return-2021-08-17/

- لطيفي، علي، محمد. ۲۰۲۱. سلګونه افغانان د کابل سړکونو ته د ازادۍ غوښتلو په پار په مظاهرو راووتل. ۷ سپتمبر. الجزیره. په انلاین بڼه موندل کېږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/9/7/afghanistan-hundreds-take-to-the-street-in-anti-taliban-protest
- لوراس، ډيډير. ۲۰۲۱. قطر وايي چې د طالبانو له لورې د پراګماتېزم ښودنې په اړه باید د هغوي کړنو له مخې قضاوت وشي. ای ایف پي. ۸ سپتمبر. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://news.yahoo.com/qatar-says-taliban-show-pragmatism-060027783.html?fr=sycsrp_catchall
- ام ایف ای روسيه. په افغانستان کې د سوله ییز نظام په اړه د غځېدلې "Troika" ګډه اعلامیه، ماسکو، ۱۸ مارچ ۲۰۲۱. د روسيې د فدراسیون د بهرنیو چارو وزارت. ۱۸ مارچ ۲۰۲۱. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.mid.ru/en/maps/qa/-/asset_publisher/629HIryvPTwo/content/id/4641844.
- محمد، حمزه او Allahoum، رامی. ۲۰۲۱. د غني له تګ وروسته طالبان د افغانستان ولسمشرۍ ماڼۍ ته ننوتل. الجزيره انګلیسي. ۱۵ اګست. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.aljazeera.com/news/2021/8/15/taliban-continues-advances-captures-key-city-of-jalalabad.
- نیویارک ټایمز. ۲۰۲۱. افغانستان خبرونه: د طالبانو پخوانیو څېرو بیا واک په لاس کې واخیست او په کابل کې مظاهرې پیل شوې. نیویارک ټایمز. ۲ سپتمبر. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.nytimes.com/2021/09/07/live/afghanistan-news/world.
- Paddeu، فيډيريکا او Pavlopoulos, Niko. ۲۰۲۱. د مشروعیت او کنټرول تر منځ: د حکومتي حیثیت لاس ته راوړلو غوښتونکي طالبان. يوازې امنيت. ۷ سپتمبر. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.justsecurity.org/78051/between-legitimacy-and-control-the-talibans-pursuit-of-governmental-status/
- رحيمي، هارون. ټویټر پوسټ. ۷ سپتمبر ۲۰۲۱. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://twitter.com/harounrahimi1/status/1435278019690651651
- رويټرز، ابليزا. ۲۰۲۱. د طالبانو مشران له يوې ښځينه افغان خبریالې سره د دغې ډلې د اعتدال ښودنې د هڅو د برخې په توګه د تلويزيوني مرکې لپاره ناست دي. بزنس انسايډر. ۱۷ اګست. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.businessinsider.com/taliban-female-afghan-reporter-in-person-tv-interview-project-moderation-2021-8
- رویټرز. ۲۰۲۱. طالبانو په کابل کې د حکومت اعلانولو سره یاغیانو د افغانستان په یوه دره کې ځای پر ځای شول. رویټرز. ۳ سپتمبر. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.reuters.com/world/india/rockets-fired-kabul-airport-us-troops-race-complete-evacuation-2021-08-30/.
- د ملګرو ملتونو امنیت شورا. ۲۰۲۱. د امنیت شورا کمېټې د رئيس له لورې د ۲۰۲۱ کال د مئ په ۲۰ مه نېټه ليک، د ۱۹۸۸ کال د مادې په تعقيب، د امنيت شورا مشر ته. د ملګرو ملتونو امنیت شورا. ۱ جون. په انلاين بڼه موندل کيږي: https://www.undocs.org/en/S/2021/486
- نړيوال بانک. ۲۰۲۱. د افغانستان عمومي کتنه. نړيوال بانک. په دې پته موندل کيږي: https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview لاسرسی، ۱۲ سپتمبر ۲۰۲۱.
- یاد، زيار خان. ۲۰۲۱. د سياسي ډلو مشران د کابينې پر ټاکنو نيوکه کوي. طلوع نیوز. ۸ سپتمبر. په دې پته موندل کيږي: https://tolonews.com/afghanistan-174566

رقم 196، شارع الطرفة (800)، منطقة 70، وادي البنات
ص. ب: 10277
الظعاين، قطـر
+974 4035 6943
www.chs-doha.org

CENTER FOR CONFLICT AND
HUMANITARIAN STUDIES